**د افغانستان بانک**

**د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت**

**د جواز ورکولو مدیریت**

# د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د ونډه وال/ونډه والو ژمنلیک

**عمومي لارښود:**

دا ژمنلیک د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د ونډه وال/ونډه والو له لورې د مرکزي دفتر یا نمایندګۍ د جواز د صدور یا نوي کولو پر مهال د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت د جواز ورکولو مدیریت یا په اړوند زون/د افغانستان بانک په نمایندګۍ کې د مسئول کارکوونکي پر وړاندې لاسلیک او ګوته پې لګول کېږي. د جواز ورکولو مدیریت یا د اړوند زون/د افغانستان بانک د نمایندګۍ مسئول کارکوونکی باید د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د ونډه وال/ونډه والو د لاسلیک او ګوتې ایښودلو څخه دمخه تر لاسه کړي.

**ژمنلیک:**

موږ هریو /زه________ د ____________ زوی د ______ ________ شمیرې پېژندپاڼې درلودونکی، د ____________ زوی د ____________ شمیرې پېژندپاڼې درلودونکی، او ____________ د ____________ زوی د ____________ شمیرې پېژندپاڼې درلودونکی، د ____________ صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت ونډه وال/ونډه والو یم/یو، ژمنه کوم/کوو چې:

**الف: عمومیات او د شرکت فعالیتونه**

۱. د فعالیت جواز په ترلاسه کولو سره، ټولې کړنې به د قوانینو، مقرراتو او د افغانستان بانک له لورې د وضع شوو دستورونو یا نورو اړوند قوانینو پربنسټ صورت نیسي؛

۲. د منع شوو فعالیتونو او خدمتونو له وړاندې کولو څخه ډډه کوم/کوو؛

۳. د پیرېدونکو/خلکو پیسې له ځان سره د سپارنې/امانت په توګه نه ساتم/ساتو؛

٤. د پیسو وینځلو او ترهګرۍ د تمویل په برخه کې د خپلو مکلفیتونو څخه پوهاوی لرم/لرو او په دې برخه کې اړوند قوانین او مقررات جدي تطبیق او رعایت کوم/کوو؛

۵. د صرافانو او پولي خدمتونو د قانون، نورو اړوند تقنیني اسنادو او د خپلو نورو مکلفیتونو څخه اړین پوهاوی لرم/لرو او د هغې د رعایت په برخه کې پابند یم/یو؛ او

٦. په هغه صورت کې چې زما/زموږ له لورې په وړاندې شوې غوښتنلیک یا د فعالیتونو فورم او د تضمین کوونکو په فورم کې او یا هم په نورو اړینو مواردو کې د اړوند تقنیني اسنادو سره سم تغییرات رامنځته شي، ژر تر ژره د افغانستان بانک د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت د جواز ورکولو مدیریت یا په ولایتونو کې د افغانستان بانک نمایندګیو ته په لیکلې بڼه خبرتیا ورکوم/ورکوو؛

۷. که چیرې د جواز د ځنډ (تعلیق)، پرېښودو (ترک پیشه) یا د فسخې وروسته، د هیواد په مرکز او ولایتونو کې مې/مو د صرفۍ او پولي خدمتونو فعالیتونه ترسره یا ولیدل شي، غیر قانوني دي او مسئول یم/یو؛

**ب: د نمایندګۍ د جوړولو/د اغیز لاندې نمایندګۍ د شتون په برخه کې ژمنه**

۱. زه/موږ ونډه وال/ونډه والو په مرکز او ولایتونو کې د خپلو ټولو نمایندګیو مسئول او ځواب ورکوونکی/ورکوونکي یم/یو او د نمایندګیو په ګډون د شرکت په ټولو فعالیتونو کې د قوانینو او مقرراتو د تطبیق څخه ډاډ ورکوم/ورکوو؛

٢. ژمنه کوم/کوو چې نمایندګي د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د اغیز لاندې ده او په ورته وخت کې د خپلو کړنو څخه مرکز ته راپور ورکوي؛
٣. د مرکزي دفتر له لورې د استازي په ګډون د نمایندګۍ ټولو کارکوونکو ته ځانګړی معاش ټاکل شوی او په میاشتنۍ توګه ادا کیږي.
٤. د نمایندګۍ ټول مالي موضوعات لکه پانګه، ګټه او زیان د مرکزي دفتر پورې اړوند دي او د مرکزي دفتر د لارښوونو سره سم په نمایندګۍ کې اجرأت ترسره کیږي.
٥. ژمنه کوم/کوو چې نمایندګي یوازې د مرکزي دفتر سره د معاملو د تصفیې مسئولیت لري او د مرکزي دفتر د هوکړې او لارښوونې پرته نشي کولای چې په خپلواکه توګه د صرافانو او نورو اشخاصو سره اجراآت ولري.
٦. د نمایندګۍ د فعالیت ځای قرارداد د ونډه لرونکو یا د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت له ادرس څخه عقد شوی دی او استازی پکې هیڅ رول نه لري.
٧. نمایندګي د مرکزي دفتر له سیستم څخه کار اخلي او خپلې ټولې معاملې په یاد سیستم کې درج کوي چې په ورته وخت کې مرکزي دفتر ته ښودل کیږي او د مرکزي دفتر د مسئولینو له لورې څارل او ارزول کیږي.
٨. نمایندګي د جلا سیستم درلودونکې نه ده، بلکې یوازې له یو واحد سیستم څخه کار اخلي چې د مرکزي دفتر له لورې تنظیم شوی دی.
٩. د نمایندګۍ له ټولو فعالیتونو څخه پوهای لرم/لرو او د نمایندګۍ ټول اجراآت او معاملې د مرکزي دفتر سره په همغږۍ صورت نیسي.
١٠. که چیرې د نمایندګۍ د جواز د ځنډ (تعلیق)، د پریښودو (ترک پېشه) یا د فسخې وروسته، د هیواد په مرکز او ولایتونو کې مې د صرفۍ او پولي خدمتونو فعالیتونه ترسره یا ولیدل شي، غیر قانوني دي او مسئول یم.

اقرار کوم/کوو چې د نمایندګیو په ګډون د شرکت د فعالیتونو او اجراآتو په برخه کې پورته ذکر شوو ژمنو ته پابند یم/یو.

د پورته ژمنو څخه د سرغړونې یا د پورته ژمنو پر خلاف اجراآتو په صورت کې، د هیواد د نافذه قوانینو او مقرراتو پر وړاندې مسئول یم/یو.

**د ونډه وال/ونډه والو لاسلیک او د ګوتې نښه**

| نوم | د ګوتې نښه | لاسلیک | نیټه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

د شرکت مُهر/ټاپه :______________________________